مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۴/۰۳

توپ توپته

مجیب‌الله مې یونیم کلن (۲۰۱۲ میلادي کال) دی. ها بله شپه خوب نه ورته، د وړمان نیازي «چندری» مې راواخیسته.
هغه شعر مې ورته ولوست چې وايي:
ټال ټال ټالی وهم
توپ توپ چندری وهم
اوس چې هره ورځ کور ته ځم مجیب الله له الماری یو کتاب رااخلي. بیا ما ته راځي، په غېږ کې مې کېني، کتاب خلاصوي او وايي: «توپ توپته». بیا بل کتاب راوړي او همدا کار وکړي، ورپسې بل کتاب راواخلي. مخې ته مې کتابونه دلې شي او مجیب الله په ټولو کې هماغه «توپ توپته» لولي. نور اولادونه مې هم دغه شعرونه لولي او یو څو شعرونه یې له یاده زده کړي دي.
«چندری» د ښاغلي وړمان نیازي د هغو شعرونو ټولګه ده چې ماشومانو ته یې لیکي دي. دغه کتاب مصور بنسټ چاپ کړی دی. یکشنبه د قوس په ۲۷ مه نېټه ګویته انستیتیوټ له مصور بنسټ سره په ګډه د ماشومانو لپاره د کتابونو د معرفي غونډه جوړه وه. هلته هم څو ماشومانو د وړمان صاحب د همدې کتاب شعرونه ولوستل. دې کار په ذهن کې دغه پوښتنه راولاړه کړه چې د وړمان شعرونه د ماشومانو ولې خوښ شوي دي؟
د وړمان نیازي په شعرونو مې لږ غور وکړ او دې نتیجې ته ورسېدم:
شعر او منطق:
اکثره لویان چې ماشومانو ته شعر لیکي د لویانو منطق کاروي. مثلاً شعر یې د لویانو په حساب منطقي تسلسل لري، منطقي پای او پیغام لري خو وړمان داسې نه دي کړي. د وړمان صاحب دغه شعر وګورئ:
ګل میخی
ټال ټال ټالی وهم
توپ توپ چندری وهم
دا د چوترې غاړه ده
دلته پلتی وهم
تکې سرې پڼې زما
ځم پرې ګل میخی وهم
شنګ، شنګ، شرنګی مې خوښ
په سره کمیس پاولی وهم
ټال ټال ټالی وهم
شپېلی وهم شپېلی وهم
ډکه د مستو کټو
زه په کې ځمځی وهم
ښنمه ترې خوړې مستې
هیلی غوندې غړی وهم
ټال ټال ټالی وهم
توپ توپ چندری وهم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دلته ګورو چې ومان صاحب د ماشومانو تخيل راخپل کړی دی. د ماشومانو تخيل تر لويانو غښتلی وي. دوی په بالښت باندې پښنه اړوي، آس ځنې جوړوي او ځغلوي يې. همدغه آس آسمان ته خيژوي، همدغه آس په سمندر کې ګرځوي. هغه ادبيات چې ماشومانو پخپله خلق کړي دي، همدا ځانګړنه لري. ومان نيازی هم په شعر کې د ماشومانو منطق کاروي. يو ځل ټال يادوي بيا چندری، بيا پنې او پاولی، ورپسې د شپېلی خبرې کوي، د مستو کتو ته ځي او بيا هيلی غوندې غړی وهي. دا د ګنو تصويرونو ظاهراً بې ربطه مجموعه ده. که لويانو ته يې همداسې وليکو نو د بې منطقی ټاپه به ورباندې لګوي خو ماشومان يې خوښوي ځکه چې د ماشومانو د خيال مرغی لا آزاده ګرځي او چې هر ځانګه يې خوښه شوه پر هماغه کښني او د سترګو په رپ کې له يوې نه بلې څانګې ته ټوپ کوي. دوی د خيال مرغی د منطق په قفس کې نه ايساروي.

په لوړ آواز د شعر لوستل:

په «چندری» کې چې څومره شعرونه راغلي دي، يو هم په پټه خوله سم نه شو لوستلی. که يې په پټه خوله ولولې نو ګومان کوې چې وزن به يې مات وي خو چې په جهر يې ووايې سم يې ويلی شې او ورسره يو ډول کمپوز پخپله ورته جوړيږي او بيا خوند درکوي. زه نه پوهيږم چې دا کوم تخنيک دی خو دومره پوهيږم چې د ماشومانو شعر بايد همدغسې وي. ماشومان د شور او ولولو په نړۍ کې اوسيږي، دوی بايد په چيغو په نارو وي.

چست وزن:

څنګه چې پخپله ماشومان په منډو په غورځو وي، هماغسې يې شعرونه هم بايد چست وزن ولري. د «چندری» ټول شعرونه همدغسې وزن لري خو بيا هر شعر يې له خپل موضوع سره متناسب بېل وزن لري. مثلاً دغه شعر:

سهار

چې راکښېنم سهار
خپل کالي کړم تيار
کړم په بکس کې په ځای
کتابونه، خودکار
توره دړه، پنسل
پنسل پاک او پرکار
بيا مې مينځمه لاس
هم غاښونه کرار
که مې غټ وي نوکان
هغه اخلم هوار
بيا مې خورمه ناشتا
چې هر څه وي تيار
د مور لاس کړمه ښکل
بيا رهي شم په لار
نه په منډه ترپا
سم په شمار په مدار

دغه شعر هم په پټه خوله سم نه لوستل کيږي او چې په لوړ آواز يې ووايې نو د عسکري مارش وزن په کې وينې. که دغه شعر له موزيک سره ووايو نو په هره مسره کې يې څلور ځايه د «ضرب» يا د ډول د درزا تمه کيږي. که شعر په مارش کې د يون په حالت کې ووايو نو هره مسره يې په څلورو ګامونو ويل کيږي:

چې – راکې – نم – سهار
خپل – کالي – کړم – تيار

دا له وزنه بېل کمال دی. دا آهنګ يا ريتم دی. که د وزن خبره وي نو د دې شعر هره مسره شپږ څپې لري خو د هرې مسرې په ويلو کې ژبه څلور ځايه دمه کوي.

پيغام:

ځينې شاعران چې ماشومانو ته شعر ليکي نو نصيحتونو ته پښې بندې کړي او دومره «وکړه، مه کړه» ورته کتاروي چې د ماشوم خوا له شعره تور کړي. زه ښه هلک يم، سبقونه مې وايم، کورنۍ دنده ترسره کوم، کالي پاک ساتم، له مور سره د کور په کارونو کې مرسته کوم، لويانو ته سلام اچوم، د لويانو خبره منم، شوخي نه کوم، وطن ته خدمت کوم ... ماشوم غريب همدا نصيحتونه له مور و پلاره هم اوري، ښوونکي يې هم په همدې نصيحتونو غوږونه ورکښوي نو له شاعره د ماشوم تمه دا وي چې د خوند خبرې ورته وکړي.

ښاغلي ومان نيازي په اکثرو شعرونو کې پيغام يو مخ لرې غورځولی او خوند يې پنځولی دی لکه په «ګل ميخی»، «سپاندي»، «اوبه»، «کوکوپښه»، «رنا»، «لښتی» او نورو کې. خو چې کله يې هم پيغام ته پام کړی دی نو هنر يې ورسره ګډ کړی. مثلاً همدغه د «سهار» شعر سر تر پايه پيغام دی خو په داسې هنر چې سړی ګومان نه کوي دا به

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نصیحت وي. دغه پیغامونه چې په دې شعر کې راغلي دي ټول د ورځې د یوې لنډې شیبې کارونه دي چې ټول سره تړلي دي او په پر له پسې توګه ترسره کېږي. دغه کارونه سخت نه دي اکثره ماشومان يې پخپله کوي. د دې شعر اصلي پیغام دا دی چې ماشوم د ښوونځي په لاره کې منډې ونه وهي، په مدار سم په شمار ګامونه واخلي. زه ګومان کوم که ماشوم مکتب ته د تلو په وخت په لاره کې همدا شعر ووايي چې «نه په منډه ترپا سم په شمار په مدار» نو هماغومره خوند به ځنې اخلي لکه څومره چې له منډې وهلو څخه يې اخلي. که نور کله ماشوم خپل شور او ولوله په منډو کې تشوي، دلته يې د ترانې په ویلو کې خالي کوي.

معلومات:

ومان په ځینو شعرونو کې ماشومانو ته معلومات ورکړي دي. مثلاً په «ساعت»، «توریپکی»، «رڼا» او «څراغونه» کې. د «توریپکی» شعر د خوندورو خبرو په ترڅ کې د تورو استعمال په ضمني ډول بیانوي. «ساعت» او «رڼا» د سوال او ځواب په بڼه، د ډیالوګ په بڼه معلومات ورکوي خو «څراغونه» بیا نسبتاً وچ یوستوي معلومات لري چې د دوو نورو ډولونه په نسبت کمزوری ښکاري. په «رڼا» کې وايي چې:

دا رڼا د زېړي لمر ده
ستوري نه لري رڼا
سپوږمی نه لري رڼا
نه يې تاو شته نه ځلا

دا خبره سمه نه ده چې «ستوري نه لري رڼا» موږ او تاسي پوهېږو چې ستوري په حقیقت کې لمرونه دي خو د ډېر زیات واټن په وجه يې رڼا تر موږه نه رسېږي. ماشومانو ته چې معلومات ورکوو، پوره دقیق باید وي. اوس که ماشوم دا راسره ومني چې ستوري رڼا نه لري او بیا وروسته په ساینس کې ولولي چې لري يې نو پر ټولو معلوماتو به د دوی باور کمزوری شي.

د کلماتو انتخاب:

ښاغلی اجمل پسرلی په خپل کتاب «ماشومانو ته د کیسو لیکلو چل» کې وايي چې ماشومانو ته په لیکنو کې باید هغه کلمات انتخاب کړو چې اوږده واولونه په کې ډېر وي ځکه چې لوستل يې ماشومانو ته آسانه وي. ومان نیازي تر ډېره دغه کار کړی دی خو یوه نیمه کلمه يې ستونزه لري. مثلاً د «توریپکی» په شعر کې وايي:

د نوم ټکي يې اووه

دلته د «ټکي» تلفظ یو څه ګران دی. دا کلمه په سر کې دوه ناغږن توري لري، له بلې خوا «ټکی» د «نقطې» مانا لري نه د «توري» که دلته ولیکي «د نوم توري يې اووه» نو بهتره به وي.

په «ګل میخی» کې یو بیت دی:

څبنمه ترې خوږې مستې
هیلۍ غوندې غړۍ وهم

«څبنمه» دړې پرله پسې ناغږن توري لري او په ساکن توري پیل شوې ده، که په «خورمه» بدله شي نو تلفظ به يې آسانه شي. هسې هم موږ مستو ته د «خوړل» فعل استعمالوو نه د «څښل». په همدې شعر کې وايي:

شنګ، شنګ، شرنګی مې خوښ
په سره کمیس پاولی وهم

له «شنګ، شنګ» وروسته «شرنګی» په ژبه دروند پرېوځي ځکه چې دلته ژبه لومړی د «شنګ» په تلفظ روږدې کېږي او بیا چې ناڅاپه د کلمې په منځ کې «ر» راځي، ژبه ورسره نه اوړي. که «شرنګ، شرنګ» وي بیا د «شرنګی» ویل آسانه کېږي.

د «څراغونه» د شعر دا بیت ولولئ:

سور څراغ د ترافیک
مانا تم شه ټینګ کړه بریک

د «ګ» او «ک» مخرجونه سره ډېر نژدې دي. په همدې وجه که یو په بل پسې راشي تلفظ يې سختېږي نو په دې جمله کې د «ټینګ کړه» د فعل پر ځای «نیسه» بهتره ده. البته د موسیقۍ په لحاظ د «ټینګ کړه» فعل «ک» لري چې د «ترافیک» او «بریک» له «کافونو» سره موسیقي جوړوي خو د «نیسه» (س) هم د «سور» او «څراغ» له (س) او (څ) سره اړخ لګوي.

زما په ګومان هر څوک چې ماشومانو ته شعر لیکي، د ومان نیازي غوندې دې يې ولیکي. د ده په شعر کې ډېر کمالونه دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ